دجهان شهادت سالی ساعت شیم ... (calligraphy motto)

چهار صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

غیرمسلسل (۱۲۹۰) سال نزدهم شماره (۱۹۸) یکشنبه (۲) جدی ۱۳۷۵ هـ ش (۱۲) شعبان المعظم ۱٤۱۷ هـ ق (۲۲) دسمبر ۱۹۹۶ م

الهی لاربوونی

ال م

اويهوداونوويل : ندي نصاري په هيڅ څه (دحقانيت او ديانت) اونصرانيانو وويل : ندي يهودان په هيڅ څه - حال داچي دوي (دواړه) كتاب لولي . همدارازهغوكسانوچي نه پوهيږي دوي دوينا په شان ئي وينا وكړه . نوالله (ج) به ددوي ترمنځ د قيامت په ورځ دهغه څه په هكله حكم وكړي چي دوي پكي اختلاف كولو اوڅوك ترهغه چازيات ظالم دي چې ممانعت ئي وكړ داالله دمسجدونونه چي په هغه كي ئي نوم يادشي اوپه خرابولوكي ئي هڅه كوي داوله نه ښائي دوي لره چي ورداخل دي شي مگروېريدونكي . دوي لره په دنياكي رسواتي ده اوهغوي لره په اخرت كي سترعذاب . اوالله سره دي ختيځ اولويديځ نوهرلوري ته چي مخ كړي. نو هماغته داالله وجه (مخ اوذات) ده يقيناً چې الله واسع (پراخ رحمته) دي عليم دي .

جنرال "دوستم"

احمدشاه "مسعود"

به اساس گزارش سازمان های امداد رسانی بین المللی درپشاور:

بیش از (٤٥٠٠) خانواده مهاجر افغانی به کمبود موادغذایی ودرحدود (۱٥۰) فامیل دیگربدون سرپناه درپشاور بسر می برند

به اثر سرمای شدید زمستان یك زن ودوطفل مهاجر درکمپ ناصرباغ جان باخته اند

پشاور - اول جدي :

سرازيرشدن صدهاخانواده مهاجرافغان به پشاور مشكل اقتصادي واجتماعي جدي اي را متوجه آنان گردانيده علاوه براين كه كمك هاي حكومت پاكستان وادارات امدادرساني خارجي براي مهاران كاهش يافته . هواي سردزمستان وبي سرپناهي ،موجب مرگ وميربرخي مهاجران مي گردد.

سازمان هـا وموسسات خيريه بين المللي درامورمهاجرين طي گزارش تازه خويش ازورود مهاجرين تازه وارد افغان به پشاور اظهارنگراني شديد نموده بيان داشته اند كه بيش از (٤٥٠٠) خانواده مهاجرافغان دركمپ ناصرباغ به قلت مواد اوليه مواجه بوده ، در سرماي زمستان به امراض گوناگون مبتلا گرديده اند .

درگزارش تذكر به عمل آمده كه اضافه تر از ۱٥۰ فاميل مهاجرافغان دراين كمپ

بقيه درستون «۷» صفحه «٤»

په نوی حکومت موافقه

استاد برهان الدين "رباني"

استاد محمد كريم "خليلي"

ددولت ریاست استاد «ربانی » ،لومړی اودوهمه مرستیالی دوستم ومسعودته ورکوله کیږی

دعظمی صدارت اوکورنیو چارو دوزارت پوستونه حزب اسلامی ته پریښودل کیږی

دصدارت مرستیالی ،دمالیی ،پلان اوتجارت وزارتونه داهل تشیع سازمانونو ته په نظرکی نیول شوی دی

ددفاع وزیر به جنرال فوزی اوخارجه وزیر به جنرال عبدالمالك وی

دحکومت داعلان په صورت کی به مسکو،تهران اونوی دیلی دهراړخیزی حمایی لپاره یوه گډه جرگه گی جوړوی

حزب اسلامی دقرارداد دمنلو په باره تراوسه نه تصمیم نیولی او نه یی ځانگړی دلچسپی اومیلان ښودلی دی

مزارشريف - دجدي لومړي :

له مزارشريف نـه د شهادت د ته وارسيدلي باوري ريپوټ واني چي په مسكوكي دافغانستان لپاره په يوه نوي حكومت موافقه شوي ده اوداعلان لپاره ئي په نيته غوركيږي .

ريپوټ واني چي دشوي موافقي لـه مخي به استادبرهان الدين «رباني » به ددولت درياست لومړي مرستيال دېخوا په خيرددولت رئيس وي ،دجنبش ملي اسلامي مشر جنرال عبدالرشيد دوستم اوانجنيراحمدشاه مسعود بـه ئي دوهم مرستيال وي .

ريپوټ زياتوي چي د دعظمي صدارت اوكورنيو چارو دوزارت پوستونه دحزب اسلامي افغانستان لپاره تش پريښودل شوي دي خو حزب اسلامي د نوموړي

پاتي «٤» مخ «۷» ستون

طالبانو په استالف کی دقبرملك غونډی ونیوه

ددفاع شورا منابعو په تگاب کی دطالبانو دحملی دشنډولو دعوا وکړه

كابل - دمرغومي اول :

دكابل په شمال كي دطالبانو او دفاع شورا دځواكونو ترمنځ نښتي شوي . له پروان ولايت څخه په ترلاسه شوېو ريپوټونوكي ويل كيږي چي دتيري جمعي په سهار طالبانو په استالف كي د « قرزي » كلي ته څېرمه ددفاع شورا دځواكونونه

پاتي «٤» مخ «۷» ستون

دپاکستان ستری محکمی له انتخاباتو مخکی دبی نظیر بوتو دشکایت فیصله اعلانوی

اسلام آباد - دمرغومي اول :

دپاكستان دستري محكمي رئيس سيد سجادعليشاويلي چي نوموړي محكمه به دفبروري ددرېمي نيټي دانتخاباتو له كيدو مخكي د پاكستان دلـبري كرشوي صدراعظمي ميرمن بينظيربوټو دشكايت په باب دمحكمي فيصله اعلان كړي .

نوموړي په اسلام آباد كي په يوه مطبوعاتي كنفرانس كي ځرگنده كړه چي دلبري كـر شوي صدراعظمي دشكايت څخي نورداسي مـوارد هم شته چي ستره محكمه به بيا وروسته پدي غورو كړي .

پاکستان به ارزش یك ملیون دالر ماشین آلات ووسایل تخنیکی به گروه طالبان داده است

ازاین سامان آلات درجهت ترمیم شاهرامیکه به آسیای میانه وصل است استفاده میگردد

اسلام آباد - ۱ جدي :

حكومت پاكستان يـك مقدارماشين آلات ووسايل تخنيـكي راكه قيمت مجموعي آن حـدود يك مليون دالر ميباشد به گروه طالبان تسليم داده است .

طبق گزارش روزنامه « نواي وقت» ازاين سامان آلات جهت ترميم شاهراهي كه به آسياي ميانه وصل است استفاده

بقيه درستون «۷» صفحه «٤»

درشورای امنیت به همه کشورها حق نمایندگی داده شود

نيويارك - ۱ جدي :

كوفي عنان سرمنشي جديد سازمان ملل در اولين كنفرانس مطبوعاتي اش درمقر آن سازمان برضرورت فعال ترشدن هرچه بيشتر سازمان ملل متحد درقبال

بقيه درستون «٤» صفحه «٤»

حمله برایران برای امریکا گران تمام خواهد شد

نیروهای خارجی باید درك کننده که امنیت خلیج وابسته به امنیت ایران است

تهران - ۱ جدي :

آيت الله خامنه اي رهبر روحاني ايران به امريكاهشدارداده است كه حمله برايران امنيت واستحكام منطقه خليج را به عواقب ناگواري دچارخواهد ساخت .

طبق گزارش رسانه هاي خبري بين المللي ،رهبرايران هنگام سخنراني به سپاه پاسداران انقلاب اسلامي خاطرنشان ساخت كه نيروهاي خارجي بايد بدانند كه امنيت منطقه خليج فارس وابسته به امنيت ايران است .

بقيه درستون «٦» صفحه «٤»

طالبان اسلحه ومهمات فراوان دارند ومیتوانند بیست سال جنگ رابه پیش ببرند

مامخالف حصول علم ازجانب زنان نیستیم امابا کارکردن زنان دردفاتر مخالفیم

كراچي - ۱ جدي :

طالبان ذخايرفروان اسلحه ومهمات جنگي دارند وميتوانند بااستفاده ازآن براي مدت بيست سال بـا مخالفين شان بجنگند .

اين مطلب را مولوي عبدالله « حماد » سرقونسل گروه طالبان طـي مصاحبه ئي بايك جريده محلي چاپ كراچي كه متن گزارش آن درروزنامه «نواي وقت » چاپ پاكستان نيز انعكاس يافته اظهارداشته است .

جنرال عبدالله گفته است كه طالبان در روزهاي اول خويش ده ديپوي بزرگ اسلحه ومهمات مجاهدين را تصرف كردند كه اين مقداراسلحه ومهمات براي بيست سال جنگ كافي ميباشد. گروه طالبان نه تنها (۲۲) ولايت افغانستان را دراختيار

بقيه درستون «۱» صفحه «٤»

بنابرگزارشات سالانه کمیته عفوبین المللی :

حقوق بشردرکشمیرهند وسیعاً پامال شده ، بیش از صد مسلمان کشمیری درزندان بهلاکت رسیده است

سرينگر - اول جدي :

موازين حقوق بشر دركشميرتحت اشغال هند به پيمانه وسيعي نقض وپامال گرديده هزاران نفر مسلمان كشميري بدون هرگونه اسناد و شواهد قانوني بمدت هاي مختلف حبس محكوم شده است .

(امنستي انترنشنل) كميته عفوبين المللي ازتخطي صريح مقررات حقوق بشر دركشميرهشدارداده طي انتشار گزارش سالانه خودتذكرداده كـه بيش ازصدنفر مسلمان كشميري دردوران حراست مورد شكنجه وآزار واقع پوليس قـرارگرفته وجان باخته اند.

بقيه درستون «٦» صفحه «٤»

دراعلامیه قنسلگری طالبان مقیم پشاور:

مذاکرات طالبان بامقامات پاکستان درمورد رهایی محبوسین افغان امید وار کننده است

پشاور - اول جدي :

قنسلگري افغانستان مقيم پشاور اعلان داشته كـه طالبان براي رهايي محبوسين افغان كـه بدلايل مختلف درزندانهاي پاكستان بسرمي بـرنـد بامقامات حكومت اين كشور به مذاكره وگفتگو پرداخته است .

ملاشهاب الدين دلاور قنسل طالبان درپشاور طي گفتگوباراديو بي بي سي باتذكر اين مطلب اظهارداشت كه طالبان درزمينه آزادسازي محبـوسين الـغـان

بقيه درستون «۳» صفحه «٤»

پیرسید احمد گیلانی اوقاضی محمد امین "وقاد" له حضرت مجددی سره غونډه وکړه

پېښور - دمرغومي اول :

دمحاذملي اسلامي مشـر پيرسيد احمدگيلاني او قاضي محمدامين وقاد دجبهه نجات ملي لـه مشـر حضرت صبغت الله مجددي سره غونډه وكړه .

دترلاسه شويو ريپوټونو په حواله ويل كيږي غونډه چي دحضرت صبغت الله مجددي پـه كوركي وشوه دافغانستان دروانې ستونزې د سولي ايزحل په اړه پكي تفصيلي اوهراړخيزې خبري وشوې .

ايران راديو وويل چي په غونډه كي له بـكيلواړخونو څخه غوښتنه و شوه چي خپل مشكلات دخبرولو لاري حل و فصل كړي ترڅو په افغانستان كي روان ناورين په سوله ايزډول پاي ته ورسيږي .

مونږ دمسکوله خبرو اترونه ډیره هیله درلوده اوپه همدی هیله حکومت ته له ډیرڅه نه ورتیرشوو

له علی رحمانوف سره زمونږ مخالفت دسیاسی کمیسیون په جوړولو دی

عبدالله "نوری"

مسكو - د جدي ۱ :

دتاجكي مسلمانانو مشر عبدالله نوري په مسكو كي د تاجكستان د حكومت او مخالفينو ترمنځ د خبرو په اړه له بي بي سي سره په يوه مركه كي وويل :

پاتي «٤» مخ «٥» ستون

روسیه ازشورای عالی دفاع ازافغانستان حمایت میکند

احمدشاه مسعود وجنبش برسرساختار حکومت آینده باهم موافقه کرده اند

عارف "صفا" نماینده جنبش درمسکو

مسكو - ۱ جدي :

سفرجنرال دوستم به مسكو حقيقت دارد ودرديدارجنرال دوستم بامقامات روسي بصورت مشخص مسايل اقتصادي وتجارتي مورد بحث وگفتگو قرارگرفت .

طبق گزارش مطبوعات پاكستان اين مطلب را عـارف صفا نماينده جنبش

بقيه درستون «٤» صفحه «٤»

دپاكستان دبهرنيو چارو وزير دهند دكنگرس گوند له نوي مشر سره په نوي ديلي كي

مژده به علاقمندان طب وتکنالوژی

International Institute of Medicine and Technology

«انترنیشنل انستیتیوت اف مدیسن ایند تکنالوژی»

دررشته های طب و انجنیری شاگرد میپذیرد.

فارغان صنوف دوازدهم که آرزوی تحصیل دررشته های فوق راداشته باشند جهت ثبت نام بااسناد مکمل تحصیلی خویش به اداره انترنیشنل انستیتیوت آف مدیسن ایند تکنالوژی مراجعه نمایند

آدرس :- شاهین تاون کوچه نمبر(۹) منزل نمبر(۱)

تلیفون نمبر(۸٤٤٦٤۲) ۸٤۲۲۷۷

(۱ - ٦)

نابود کردن ما جز شهادت جاوید کاری از دست دیگران ساخته نیست (?)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

موسس: انجنیرحکمتیار

ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ

تحت نظر هیئت تحریر

تیلیفون: (۲٦۲٤۸۷)

آدرس پستی: ۱۰۳٦ یونیورسیتی تاون -پشاور

دپیښور اواسلام آباد نه پس په مسکوکی دحکومت جوړښت

په داسي حال کي چي په هیواد کي نه دپیښور او اسلام آباد ،نه د ریاض او تهران اونه دتاشکند اومسکوفارمولونه عملي گنو، ددغه بحران دختمولو په خاطر یوځل بیاهغه وړاندیزونه چي عملي بڼه لري اوپایښت ئي متصورکیږي تکرارو اوهغه داچي : دحزب اسلامي افغانستان دلمړني طرحي په مطابق باځوبايد دټولو اړخونوپه توافق اوتفاهم یو داسي موقت نظام رامنځته شي چي ټــول اړخونه په کي گډون ولري، او بیادي دهمدغه نظام لــه لاري دعمومي انتخاباتو په واسطه یوولسي قانوني منتخب حکومت ته واکمني انتقال کړل شي اوبیادي دټولوپه خوښه اواتفاق دغیرمتنازع فیه مسلمانو خلکوڅخه یــو موقـــت حکومت دانتخاباتو دپروسي دپرمخ بولو په خاطـر جـــوړ کړل شي. زمونږ دهیواد گڼ شمیر مسلـــمان ، نیك اومتدین وگړي چي په حکومتي چاروکي پوره پوره درایت اوتجربه لري په نړي کي خواره واره پراته دي چي دهیڅ تنظیم اوياحلقي پوري مربوط نه دي، په دي اساس دطالبانو دتحریك په شمول ټول اړخونه کولي شي چي دیوه موقت حکومت دجوړښت له پاره دداسي افرادو په نومونوباندي توافق وکړي. دغه کارهم ددوولوریو ممکـــن دي. لمړي داچي پخپله دمصلحو افغانانو دیوي ډلي له خوا دتنظیمونو ســره دتماس له لوري داکارترسره شي، دویم داچي دملگروملتونو او اسلامي کانفرانس دهیئتونو لخوا دا کار سرته ورسول شي . خو لمړي صورت به ئي په دي دیربهتردي چي قضیه بـــه پخپله دافغانانو لخوا حل وفصل شوي وي. اوکه داممکن نه وي چي په هرصورت ممکن دي نوبیا دي دملگروملتونو ترنظارت لاندي دکابل ــ جبل السراج اومزارشریف په شمول دشبرغان سیمي ټولي غیرنظامي شي، ټول وسایل دي په هماغه ځایوکي دپورتنیوبین المللي ادارو ترمستقیمي څارني لاندي ورکړل شي اودهمدي اداري ترنظارت لاندي دي دتفاهم له لاري یونظام رامنځته شي . ددي نه اخوابله کومه لارپه هیڅ صورت دحل لارنه لیدل کیږي . که دطالبانو غوروزنگ په ټول هیواد حاکم شي هم پایښت نلري، ځکه چي غربیان دطالبانو موج فقط دیوي مخربي څپي په حیث تصورکوي چي دیره زرئي له منځه تلونکي گڼي . او کـــه ددفاع سکتاریستي شورا غواري چي په هیواد حاکمیت پیداکړي (چي په هیڅ توگه ورته ممکن نه دي) نوپه هغه صورت کي دپخوانیو تجربو په رڼاکي اول خودغه ډول غیرمتاجنس حکومت دوام نشي موندلي اوکه دوام پیداهم کړي نونتیجه به ئي داستادرباني دپخواني څلورکلن حکومـــت څخه بل څه نه وي .

په دي اساس داسلامي تحریك پوري اړوندوتنظیمونو ته په کاردي چي دمسکو په ځاي داسلام لاره خپله کړي . په دسمني روسي اودهغي په کمونستوایجنټانوباندي دتکیه کولو په ځاي دطالبانو دتحریك سره دیوه نظام دجوړولو له پاره دتفاهم لارخپله کــړي او ولــس دي دکمونستانوپه غیږکي داچولو په ځاي داسلام په لمن کي دغورزولو له پاره ایماني مسئولیت اداکړي .

محافل حمایت کننده طالبان، حکومت طالبان رامعلق قرارداده اند

بقلم : واصل حمید

درچند نوبت مذاکراتي که بین رهبران طالبان وشخصیت هاي خارج وبین المللي صورت گرفته آنهااین موضوع را تکرارکرده اند که تحریك طالبان درقید این نیست که دولت آنها ازطرف کشورهاي خارجي ویاسازمان ملل متحد برسمیت شناخته میشود ویانه . تحریك طالبان مصمم است که اصول اعلام شده خودرا رعایت نماید .

اگرچه طالبـــان در بیانیه رسمي و اعلامیه هاي حکومتي شان پیوسته ازانعطاف ناپذیري واصول گرایي تاکید بعمل مي آورند ولي آنچه درعمل دیده میشود خطوط انعطاف پذیري ، ویا روشنتربگوئیم ، عملیه فاصله گرفتن ازقاطعیت و اصول گرایي که طالبان ادعاي آنرا درامورمختـــلف داشتند، بطور تدریجي ظرف این سه ماه اخیر که از تشکیل اداره طالبان درکابل گذشته بملاحظه رسیده است .

> اگرچه طالبـــان در بیانیـه رسمي و اعلامیه هاي حکومتي شان پیوسته ازانعطاف ناپذیري واصول گرایي تاکید بعمل مي آورند ولي آنچه درعمل دیده میشود خطوط انعطاف پذیري ، ویا روشنتربگوئیم ، عملیه فاصله گرفتن ازقاطعیت و اصول گرایي که طالبان ادعاي آنرا درامورمختـــلف داشتند، بطور تدریجي ظرف این سه ماه اخیر که از تشکیل اداره طالبان درکابل گذشته ، بملاحظه رسیده است .

نرمش آوردن درمعاملات طالبان شاید توجیهات دیگري نیز داشته باشد ولي هیچ عاملي به اندازه این قوي نیست کـــه طالبان بخاطرشکستن جو رکود موجـــود بـــراي بیرون آوردن خودشان ازانـــزواي بین المللي به این حرکت هامتوسل میشوند .

حرف قبلي طالبان براي مخالفان خصوصاً درآن آواني کـــه دروازه هاي کابل براي آنها بازشد چیزي جز پیام سرکوب ومرگ بـــراي این مخالفین نبود. طالبان هرزماني که فرستاده هاي سازمان ملل متحـــد بـــا آنها ملاقات میکردند حرف شان فقط همین بودکه مخالفین به حکومت طالبان تسلیم شوند وازعفو طالبان استفاده نمایند. اما حالاکه دیدوادید داکتر و ناربرت هول ، به قندهار زیادشده علت آن این است که طالبان دیگر روي ان حرف بریده وکوتاه شان پافشاري ندارند ویك حرفها وانعطاف هاي دیگري را که اسباب امیدواري ماموران صلح سازمان ملل شده درخود نشان داده اند . تاآنجا که حالا امیدواري پیداشده که ماه آینده طالبان ومخالفین درمذاکراتي کـــه بخاطرصلح وتحت نظارت سازمان ملل متحد صورت خواهد گرفت حضوربهم رسانند .

بعدازمسایل سیاسي و جنگ قضیه دیگري که اگرچه براي طالبان چندان مهم جلوه نمیکـرد مسئله زنان مي باشد. طالبان اول که بکابل آمد قیود شدیدي را درامور زنان اعمال نمودند کارزنان رابطورکل دربیرون ازمنزل و درادارات دولتي ممنوع اعلام کـــردند و مدارس و موسسات زنانه راتعطیل نمودند. دریـــن مدت انتقادو اظهار نظرهاي بسیاري به ارتباط زنها صورت گرفـــت ولي اداره طالبان هربار انتقاد هارا محکم جواب داده وخاطرنشان کـــردند کـــه تعامل آنها دربخش زنان مطابق اصول شریعت و اســـلام مي باشـــد و آنها تشویش وحراسي ندارند کـــه محافل غربي وخارجي به ارتباط زنها چه مسایلي را براي طالبان عنوان مینمایند .

طالبان قیود زنان را با شدت ادامه دادند اما درین روزها چنانکه دیده میشود کـــه این حدت وشدت طالبان روي مسئله حجاب و زنان نرم گردیده وگشت وگـــزار زنان درکابل باشرایط سهلتري کـــه قبلاً مقدور نبود میسر گردیده است .

انکشاف اخیراینکه عبدالغفـــور « سنائي» رئیس دیوان عالي وقاضي قضات طالبان درهفته گذشـــته وعده داده ودرمصاحبه بامطبوعات گفـــته است کـــه قیود زنان از شغل بیرون ازمنزل بخاطري بودکه درکشور امنیت تأمین نشده است وقتي امنیت تأمین شود زنان میتوانند بارعایت حجاب دربیرون ازمنزل کارنمایندوبه ادارات ومدارس خود بروند .

بهرحال حقیقت این است که اداره طالبان درامریکات، وانزوایي که ازجانب منابع خارجي علیه آنهـــا صورت میگیرد آهسته وتدریجي ازخـــود انعطاف نشان میدهند ولي باوجود این کوشش، منابع حمایت دهنده طالبان بنابراینکه نمیخواهند گـــروه طالبان فراتراز یـــك وسیله فشار وفراترازیك مرحله عبوري وگذرا قیام ودوامي دراوضاع کشور داشته باشـــند ، قصد ندارند حکومت طالـــبان را برسمیت بشناسند .

اگرچـــه درظاهر سیاست ظاهري این است کـــه باید گروههاي محارب درافغانستان بشمول طالبان ازجنگ دست بگیرند ویك اداره مشترکي راپس از غیرنظامي کـــردن طالبان رویکار بیاورند ولي درنهاد محافل بین المللي تازمانیکه زمینه براي رویکارشدن یك حکومت غـــیر مذهـبي و سیکولر مهیانشود خواستار قطع منازعــــات درمیان گـــروهها وجناحهاي اسلامي ومذهبي نمي باشند .

> حقیقت این است که اداره طالبان درامریکات وانزوایي که ازجانب منابع خـــارجي علیه آنهـــا صـــورت میگیرد آهسته وتدریجي ازخـــود انعطاف نشـــان میدهنـــد ولي باوجود این کوشش، منابع حمایت دهنده طالبان بنابراینکه نمیخواهند گـــروه طالبان فراتراز یـــك وسیله فشار وفراترازیك مرحله عبوري وگذرا قیام ودوامي دراوضاع کشور داشته باشـــند ، قصد ندارند حکومت طالـــبان را برسمیت بشناسند .

باتوجه به این وضـــع فیصله نامه روزسه شنبه ۲۷ قوس مجمع عمومي سازمان ملل متحـــد درمورد غیرنظامي شدن کابل ودرمورد اینکه آتش بس برقرارشود و یـــك کمیسیون مشترك درکابل قـــدرت را بدست بگیرد موقع بسیارخوب ومناسبي است که بااستفاده از آن میشود جـــنگ وبرادرکشي موجود در افغانستان راپایان داد .

طرح غیرنظامي شدن کابل که طرح پیشنهادي شوراي دفاع نیز مي باشـد درحال حاضر از پشتیـــباني وسیعي برخوردارشده است واین طرحي است که راههاي پایـــان جنـــگ رابشکل آبرومندانه وعملي نشان داده است .

درچنین شرایط کلید حل مسئله افغانســـتان في الحال دردست طالبان مي باشد اگرطالبان بخـــواهند همین فردا درافغانـــستان صلح بـــر قرار میشود . طالبان تاالحال اصراردارد که شهرکابل توسط طالبان غیرنظامي شده این بیان حکایت ازآن دارد که گویا طالبان قصد بیرون رفتن ازکابل راندارند ولي نباید اینقدر زودانتظارداشت که طالبان به این زودي آماده پذیرش طرح غیرنظامي کردن کابل شوند . سرانجام آنها خواهند فهمید کـــه بـــراي رویکارآوردن یك حکومت اســـلامي و بـــراي اینکه افراد مذهبي وجهادي ازرهبري یك حکومت درافغانستان بیرون نروند چاره یي نیست که به طرح غیرنظامي شدن کابل احترام بگذارند و در راه عملي شدن این طرح کـــه تنهاراه صلح است صادقانه همکاري نمایند .

ائتلافونه که داختلاف سازشونه

دسید ولید لیك

تیرو نولسو کلونو هرافغان چي ځوان دي اوکه زوړ په دي خبره پوه کړ چي سیاست څـــه ته وائي، سیاستمدار څوك اولویه یي څه ده ؟ آیا داسیاست مداران رښتیاهم سیاست پخپل ځاي اوسم ســـمت استعمالوي که یي ترینه یوه لویه جـــوړه کړي که ننداړچیان خوشالوي اومصروفوي شـــي؟ که له هرافغان څخه وپوښتل شـــي هغه به ورته په ورین تندي پـــه هیواد کي دانحرافي سیاست ټولي لویي اونتایج په ځوټکو کي بیان کړي .

له دي نولس اتلس کلونوڅخه دمخه زمونږ عامووگړو لـــه سیاست ، دهغه له بازار اوکرو وړو سره تـــه دومره مینه درلوده اونه یي دچاخــبره په دي مسایلوسرخوږاوه . دلته داخبره هم سرې ته مخي ته دریږي چي ددي بي پروائي اوبي توبیري علت په څه کي ؤ؟ هغه په بي علمي او بي سوادي کي و اوکه دشاهي رژیمونو له خوا په قصدي توگه دملت په پټوسترگو ساتلوکي نغښتي ؤ. دا دواړه خبري سره تړلي دي که زمونږ مسلمان ملـــت بي سواده هم ساتل کیده مسوولیت یي دتیرو رژیمونو په غاړه دي اوکه قصداً دسیاست له بازارڅخه لیري ساتل کیده دهمدغو رژیمونو گناه ده .

له بده مرغه چي زمونږ په هیواد کي دسیاست راغلي میتود تیل شوي اوواردشوي بڼه ومونده . کمونستانو دروس په شان سیاست اوحکومت کول راکاپي کړل. دغه کاپي شوي سیاست مورهومره بدمرغه کړو چي اوس یي هیڅ په چاره نشو پوهیدلي . رښتیاهم هرڅه چي خـــام وي پخیږي خوځام سیاست نه پخیږي . چي پوخ نشي نوڼه بریالي کیږي. یاداچي که هرحوك غامه شته یااومه میوه وخوري هرومرو به پري نس خوري اوري .

خوردغه خام سیاست خامي یااومي میوي مور پـــه داسي درداخته کړو چي نه دجهان دطبیبانو دارو مارو پري اثرکوي اونه کوم خاص حـــوك شته چي ددغي بدمرغي ناروغي لـــه پـــاره موږته ددارو مارو تجویزوکړي . حیتي ناکامه نسخي اوتجویزونه شته چي په ټوله نړي کي لـــه بدمرغي پرته بله نتیجه نلري یا مور تـــه راکول کیږي او باني پخپله په پټو سترگو په تقلیدي توگه استعمالوو .

دلته زمـــور هـــدف دائتلافونو او سازشونو ناکامه نسخه اوسلوك دي. داروش په ټوله نړي کي سه نتیجه نه ده ورکړي. تل داختلاف سبب گرځي . که اختلاف په ائتلاف او سازش له منځه تللي شي نوولي ورتـــه ائتلاف وایـــو بلکي هغه تـــه بشپړاتحاد ،وحدت، وروروولي اواخوت نه وایو. که دائتلاف ترنامه لاندي داختلاف له پاره زاره ، نومونه ، فورمونه ، کره وړه اوپالیـــسي ولرو نو دائتلاف پرده غوړول پرمخ څه گټه لري. اصـــلاً همدغه ائتلاف داختلاف دپټولو له پاره یوسازش دي. که سازش نه وي نودغه رازبي معني اوبي مفهومه یووالي ته څه اړتیاده چي نه عملي کیږي اونه یي دعملي کولوله پاره کوم اخلاص موجودوي .

> دلته زمورهدف دائتلافونو اوسازشونو ناکامه نسخه اوسلوك دي. داروش په ټوله نړي کي سه نتیجه نه ده ورکړي. تل داختلاف سبب گرځي . که اختلاف په ائتلاف او سازش له منځه تللي شي نوولي ورته ائتلاف وایو بلکي هغه ته بشپړاتحاد ،وحدت، وروروولي اواخوت نه وایو. که دائتلاف ترنامه لاندي داختلاف له پاره زاره ، نومونه ، فورمونه ، کره وړه اوپالیـــسي ولرو نو دائتلاف پرده غوړول پرمخ څه گټه لري. اصـــلاً همدغه ائتلاف داختلاف دپټولو له پاره یوسازش دي. که سازش نه وي نودغه رازبي معني اوبي مفهومه یووالي ته څه اړتیاده چي نه عملي کیږي اونه یي دعملي کولوله پاره کوم اخلاص موجودوي .

موږیه لومړي له هیوادنه بهرځو ایتلافونو ته گوته ونیسو چي دهغوي په یادولو سره به موډخپلي خبري له پاره سه مصداق میندلي وي. همـــدا حـــو میاشتي د مخـــه دترکـــیي په اسلامي هیواد کي دتانسیوچیلرائتلافي حکومت ونړید. لـــه انتخاباتو وروسته ائتلافي سازشونه پیل شـــول ، یو حکومت حوورحي دوام وکړهغه بیرته ژرونړید، بیـــائي دیـــو بل حکومت دجوړولو لـــه پاره گام پورته کړ، په پاکستان کي دپیپلزپارتي او یو شمیر نورو دلو له خـــوا دوه دري حله حکومتونه جوړشول . په بله دله کي داپوزیسیون په نامه خودلي داسي سره راټولي شوي چي هغه لـــه پسر وغورځوي اوځانونه واك ته ورسوي له همدغه امله سیالانو پریویل له هیڅ نه ده وسکړه .

دغوائتلافي دلو ددي پرځاي چي دهیواد له پاره کاروکړي دځپل ځان اواندیوالانو غـــم یي وخوراودملت په وړاندي یي خـــپل ځان له درني اودمخالف له سپکي نـــه بله نتیجه نلري. که څه هم احزاب اودلي په هغو هیوادوکي چي وگړي یي لږترلږه مني اوچپ لاس پیژني یوڅه نتیجه ورکوي لکه دامریکا په متحدو ایالتونو، انگلستان، جاپان اودغه راز نورو هیوادوکي ددیري بدمرغي باعث نه دي گرځیدلي .

په هغو سیمو او هیوادوکي چي نه دقرآن نظام پـــه کي حـــاکم وي، نه عیسویت مني اونه هـــم کوم بشري کرامت ته اخلاص ولـــري هلته خام احزاب، خامي دلي له کړاو اومشکل نه پرته بل څه نه دي.

په جهادي وګرکي هم دحکومتونو جوړولو لـــه پاره راز راز ائتلافونه دبهرنیانو پـــه زور او فشار جوړشول دمجاهدینو د عبوري ائتلافي حکومت څخه نیولي داسلام آباد، جـــلال آباد دائتلافي معاهدو حکومتونه ، دجبل السراج ، ماهیپر ترونونه ټول دائتلاف له پاره سازشونه وو چي متاسفانه یي اخـــتلافي بنسټونـــو ولاړوو. ددې حکومتونو څکه دوام ونکړ چي تهداب ئي پراختلاف ولاړوو. کـــومي اداري اوورارتخاني چي پـــه همدغومودوکي سره ویشل شوي وي هـــغه یواځي دتنظیمونو واره تنظیمونه یادچاخبره مستعمري وي. هروزارت چي دچاوو هلته بیل حکومت اوبیل خیال ؤ که کوم وزیر به خلقي ؤ هلته به خلقیان وو که به پرچمي و دپرچمیانو بازاربه گرم ؤ په جهادي سطحه په عبوري حکومت ئي تنظـــیم ســـالاري وه . هلـــته

> موژاو زمـــور مجاهدملـــت دائتلافونو دسړو تودو بازارتوبه لیدلو ، دهغوي په نتیجه کي دجوړو شویو ادارو عجیب او غریب اعمالو په کتلو اوس دي حدته رسیدلي یــو چي دا پـــردي فورمولي اوپامـــخ شوي ناکامي ډرامي ددي ملت پـــه دردنـــه خوري. دغه داختلافونو له پاره مطرح شوي سازشونه یعني ائتلافونه نشي کولاي زمونږ په درد وخوري یادي لږ ترلږه زمونږ دروانې ستونزې داواري له پاره دي شرایط برابرکړي. که موږترڈي زیات لادغه ناکامه تجربه تکرارووو اوپابه دي لته کي شو چي دائتلافونوپه جوړولو سره به دامشکل حل کړو نودایو غلط فکردي .

دافغانستان دمسلمان اومجاهد ملـــت په باب خبره نه کیده هرچابه لومړي ویل خپله خانه گله خانه کـــه به یي زره وخوریدنودابه یي هـــم ویل چي خپله گرنده .

ددغو ائتلافونو پـــه بهیرکـــي جووړشویو حکومتونو څکه بري ترلاسه نه کړاي شواي چـــي اساسي هدف په کي دافغانـــستان سوکالي اوابادي نه وه . هلته په کي دجگړي دپاي ته رسولواودافغانـــستان دبیاودانولو فکرنه ؤ. هرډلي همدا غوښتل چي یواځي دده دتنظیم مشران غـــړي دي وزارتونه ، ریاستونه ، معینتونه اومقامونه ونیسي نورملت چي څـــه کوي هغه دي کوي اوپادتنظیم ثبت رتبـــه غـــړي اونور مجاهدیـــن پوهیږي کارئي . نوریي جهادي مکلفیت پاي تـــه رسیدلي کاریي خپل دي .

له هغي ورځي نـــه چي طالبان دهیواد پرږیرو سیمو حاکم شول، دهیواد پایتخت دکابل ښارهم دهغوي ترولکي لاندي شویو ځل بیاهم په هیواد کي دائتلاف، ائتـــلاف آوازونه پورته شول. دائتلافونو پـــه لړکي د څنجانو ائتلاف دجبل السراج دائتلاف پرځاي رامنځ ته شو دچاخبره هماغه دیگ اوهماغه شلغم ؤ . دي ائتلاف په پیل کي عجیبي غریبي خبري راوکسلي وروســـته ئي چي فکرشونو دنورو پـــه جنبولو یادملگري کولو تش په نامه ناري سوري یي پیل کړي .

موراوزمور مجاهد ملت دائتلافونو دسرو تودو بازارتوبه لیدلو ، دهغوي په نتیجه کي دجوړوشویوادارو عجیب او غریب اعمالو په کتلو اوس دي حدته رسیدلي یوچي داپـــردي فـــورمولي اوپامـــخ شوي ناکامي ډرامي ددي ملت په دردنه خوري. دغه داختلافونو له پاره مطرح شـــوي سازشونه یعـــني ائتلافونه نشي کولاي زمـــور په درد وخوري یادي لږ ترلږه زمور دروانې ستونزې داواري لـــه پاره دي شرایط برابرکړي. کـــه مورتردي زیات لادغه ناکامه تجربه تکرارووو اوپابه دي لته کي شو چي دائتلافونوپه جوړولو سره به دامشکل حل کړو نو دایـــو غلط فکردي .

مور پـــه دي فکربوچي ائتلافي سازشونه چي داختلاف له پاره زمینه برابروي دحـــل لاره نـــه ده. په ائتلافونوکي تـــل شخصي،تنظیمي سمتي ، قـــومي ، ژبـــني او نژادي تعصبات دخیل وي او باهم په همدغو اړخونوپه کي تکیه کیږي . ښه به داوي چي ترټولو دمخه دقرآني احکامو په رڼاکي داخرت محبت او ورووري له مخي دمسلمان په حیث دافغان مسلمانانو ددین او دهیواد ، افغانستان دژغورني له پاره لاسونه سره ورکړو . ځانگړي معیارونه دځانونو لـــه پاره ونه ټاکو، دچوکیو پرسرشکونکي ونه کړو یواځي یواسلامي نظام جوړکړو .

په اسلام کـــي سترمعیارتقوي

پاتی «٤٠» مخ «٧» ستون

چي کشور دافغانانو معطرکا دهربیت مصراع مي زلفي د خوبان کړی

رحمان بابا

له ادب نه مراد څه دي ؟

همدا چي خبره په داسي نازك او ښکلي انداز کي وشي چي اوریدونکي یې دپیتې یازره تنګي له احساسولو پرته ، اثرومني .

څه ورادب ؟

نعیم صدیقي

موږ داسي ادب ته ضرورت لرو چي کله یې دپاېو له لوستلو نه فارغ شو نو ما احساس کړو چي دفکر اواخلاقو په لاروبو دپرمختګ کوم ګام پورته کړي دي . کومي انساني پانظم ،کومي سرمقالي یا نقد موږ دحیواني قابلیتو ، روحي کرکیچونو دتولني دبې عدالتیو اوتړیوال زور زیاتي په خلاف په یو نوي قوت مسلح کړي یو .

همت

غزنوي سلطان محمود دعجیبه همت او د ډېر ستر ارادي قوت خاوند و . په ۱۰۲۷ م یې تبه شوه چي دسل مرض بڼه یې غوره کړه خو هغه په خپل ورځني کاروبار کي څه بدلون را نه ووست . د دربار او لیدنو کتنو لړي دپخوا په شان روانه وه ، له خراسان نه یې سلجوق وویستل ، دري بغاوته یې ختم کړه (۱۰۲۹) م کال د ګرمي موسم یې په خراسان کي او راتلونکي ژمي یې په بلخ کي تیر کړ . خو تورېي صحت بالکل له کاره لویدلي و او د ۱۰۳۰ م کال داپریل په ۲۲ تاریخ بیرته غزني ته راستون او اوه اته ورځي وروسته یې ساه ورکړه .

د مرګ په بستر هم سلطان دهماغه لوړهمت او ارادي قوت ثبوت وړاندي کړ چي دهندوستان په جنګونو کي یې درلود . پخپل اوږد مرض کي کله هم په بستره کي پرې نه ووت ، هغه به شپه او ورځ بالښتونو ته تکیه وهلي ناست و او په همدي حالت کي یې داجل داعي ته لبیك ووایه .

انا لله وانا الیه راجعون .

دروند خوب

مسلمانان څلور پنځه سوه کاله دخپلو پلرونو په لاسونو خړوړ شوو بسترو کي په خراړه خوب ویده وو او غربي قومونه پخپل کارکي لګیا وو . له دي وروسته ناڅاپه دغربي اقتدار توپان راپورته شو او دیوې پیړۍ په موده کي یې ټوله نړۍ ونیوله . په اوږده خوب پرسیدلي سترغلي چي مسلمانانو ومښل اوراپاڅیدل نو وي لیدل چي عیسایي اروپا په قلم او توره دواړو مسلح شوي وه

مولانا سید ابو الاعلي مودودي (رح) .

مقام

ما په داسي حالت کي ژوند کاوه چي الله سبحانه وتعالي مي اوریده چي له ما وروکي او کم بنده سره ددي قرآن په وسیله خبري کوي ... دادانسان لپاره څومره لوړ اوجګ تکریم دي ، او دژوند لپاره څومره لوړه درجه ده چي دي نازل شوي کتاب یې ورپه برخه کړي ! داڅومره دروند او قدرمن مقام دي چي کریم خداي(ج) په انسان لوروړلي دي !

شهید سیدقطب

نقد

د " نقد " لپاره څلور شرطونه ضروري دي .

لومړي داچي ناقد باید دهغه څا له انکارو سره خبروي دچاپه اثر چي نوموړي نقد کوي . له دي امله باید پراخي همدغه کتاب یامضمون په نظر کي ونلري په کوم چي دي بحث کوي بلکه دهغه مجموعي اثار له نظره تیر کړي .

دویم داچي په نقد کي شخصي مینه او کرکه راشریکه نشي .

دریم داچي نقد په معقوله او مؤدبه توګه وشي .

څلورم داچي ناقد اونقد لوستونکي دچا دیوي خبري غلطي دهغه دټول شخصیت غلطوالي ونه ګڼي .

مولانا ابوالاعلي مودودي .

دادب ورځې

احساس

دهیواد حلمرته :- زما دتنګیالي اوښیالي هیواد توریالیو اومیړنیو زامنوا ددنګردنګو غرونو شازلمیو او پراسلامي افغانستان مینو شازلمیو ځوانانو ! نن د خپل پاریدلي احساس په تریاني څپوکښي تاسي ته یوڅه ویل غواړم اوهغه داچي :

تاسي پراسلام او آزادي مین چي دتکبیر له ملکوتي نارو سره راپورته شوي اودخپلو تورو په برېښنا کښي مو داسلام اوخپلواکي دښمنان له خپل تاریخي هیواده وشړل ،دتنګ ،غیرت ، میړاني او اسلامي عظمت په تاریخ کښي مو پر خپلو سرو وینو نوي باب پرانست دخپل عصر فرعوني ځواك ته موماتي ورکړه ، د زور له لاري پرقامونو منل شوي نظریه مو غلطه ثابته کړه ، دنړي دقومونو ترمنځ مودکرکي نفرت اوسپڅیزدیوالونه مات کړل ، نړیوال ټولنیز ، سیاسي ، اقتصادي تګلورې ته مو بدلون ورکړ . په خپلو سرو وینو مودنړي په ګوټ ګوټ کښي دمظلومانو اومستضعفانو دخلاصون له پاره دخپلواکي شمعي روښانه کړي دنړي قامونوته مو دزورګیرانو اوظالمانو په مقابل کښي دپاڅون او خلاصون پیغام ورساوه ، هم تاسي واست چي دنړي دنقشي د بدلون لامل شوېی ،هم تاسي وي چي دنړي ښکېلو قامونو دخپلواکي ګټلو پیغمبران وګڼلئ ، هم تاسي یې چي نړیوالومو دسرویڼو په خوړیوېی کښي دیوستر فرعون له ویري پرته دآرام ساه واخیسته .

خو ! داسلام او هیواد همدغه سوبیالي زامن دسوبي اوبري په نشوکښي د ځان واکي اوځانځاني دزهروګوټ هم پرسرواړاوه له ځانه یې ځانه شول ، دهوش اوعقل واګي یې دنفس اوشیطان لاسوته ورغلي په ځان یې راپاندي کړل ، اودادي کابوڅنځه کاله کیږي چي خپل عظمت تربڼولاندي کوي ، خپلي پاکي وینې د دنیاوي اقتدار له پاره توپوشیو وینو سره ګډوي ، خپل نړیوال پیغام پخپله غلطه ثابتوي له خپلو ارمانونو سره پخپله لوبي کوي ، خپل سپیڅلي اهداف پخپله داقتدار دتړېدلیو دیوالونو ترخرواړونو خاورو لاندي کوي ، پرخپل روڼ او وياړلي تاریخ پخپله دنفاق اوشقاق د اوروتو توري ابري اروي خپل ځان وژني ، ارمان وژني ، یتیمان نهیلي کوي ، کونډي سرتوروي ، دهجران شپې مولاپسي اوردوي اوتیاره کوي یې.

دخپل وروړ پرویتو ګټلي عظمت اوناموس دځان غنیمت ګڼي اواوس خو خبره دومره خطرناکه شوي چي د هیواد اسلامي آزادي او دشهیدانو دوینو له پاره نوي سوداګر رامیدان ته شوي .

اوغواړي چي دنفاق ، ځانځاني ، ځان واکي ، غربت ،نیستي ، بې وسي ، بې کسي او خپلمنځي نفرت په څنځیرونو کښي مو وتړي اوخپل شیطاني اهداف ترلاسه کړي .

نو ! داهیوادبوځل بیا ستاسي تریاني پاڅون ته ارتیالري ، دخداي په نامه پاڅون ته ،داسلام دعظمت ساتني په نامه پاڅون ته دسولي او ورورولي په نامه پاڅون ته ، دهیواد والو دوحدت اوخاوري دتمامیت په نامه پاڅون ته دهرخاین پرخلاف ،دهرظالم پرخلاف ،دهرځان غوښتونکي پرخلاف ، د ژبي ، ملیت ، سمت ، مذهب اوقوم په نامه راپورته شویو او راتول شویو پرخلاف پاڅون ته ارتیا ده .

نو تاسي بوځل بیا ددغه ستر تاریخي مسوولیت پرخپلو اوږو اخیستلو ته باید چي تیارشي ، راپورته شي او دسترګو په رپ کښي دخپل تقدیر دسمون له پاره ورورستي او پریکنده ګامونه پورته کړي .

